# له ګمان څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې ګمان تر ټولو دروغجنه وينا ده

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «له ګمان څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې ګمان تر ټولو دروغجنه وينا ده، او د خلکو عورتونو پسې مه ګرځئ، او جاسوسي مه کوئ، او له يوبل سره کينه مه کوئ، او يو بل ته شاه مه اړوئ، او يو پر بل مه غصه کيږئ، او ټول د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځينو هغو کارونو څخه منع فرمايلې ده چې د مسلمانانو تر منځه تفرقه او دښمني رامنځته کوي، له هغو څخه: (الظن) له دليل پرته په زړه کې تور پورې کول، او دا يې بيان کړ چې ګمان تر ټولو دروغجنه وينا ده. "تحسس" د سترګو يا غوږونو په واسطه د خلکو د پټو عيبونو پلټنه کول. او (جاسوسي): چې د پټو معاملو په لټه کې وي، او اکثرا دا د بدو په اړه ویل کیږي. او له حسد څخه: چې هغه د نورو لپاره د نعمت بد ګڼل دي. او له يو بل څخه مخ اړول، نو نه سلام اچوي او نه د خپل مسلمان ورور ليدنې ته ورځي، او له يو بل څخه کرکه کول، بد ګڼل او نفرت کول، لکه د نورو ازارول، او هغه چې تندی يې تروش نيولی وي او هغه چې په بد انداز سره خلکو سره مخ کيږي. بيا يې يوه جامعه وينا وکړه چې د مسلمانانو خپلمنځي وضعيت پرې ښه کيږي: ( او د الله جل جلاله بندګان شئ ورونه ورونه) نو ديني ورورګلوي هغه اړيکه ده چې د خلکو تر منځه پرې اړيکې پياوړې کيږي، او تر منځه يې مينه او محبت زياتيږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5332

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee